ولی احمد نوری
۲۰۱۵/۱۰/۳۱

# نـــــازو انـــــا

## د "پیمان بلوکفا" څخه دیره مننه

مېرمن نازو د پښتنو د یوه محلي واکمن ملخي توخي لور وه، د دې پلار هغه وخت له غزني تر جلدکه د توخو او نورو قومونو مشري او واکمني درلوده او په بشپړه خپلواکی یې حکومت کاوه.

سلطان ملخي توخي د خپلې لور له روزنې او زده کړې سره زیاته مینه درلوده، دې له لوستو مېرمنو او سپین ږیرو علماو څخه زده کړه کوله او د دین بنیادونه او ارکان یې ترې زده کول او هم یې د ادب ښکلاوې او نازکی ترې زده کولې او ادبي اثار یې لوستل.

نازو نرمخې ښځه وه، کله چې د دې پلار سلطان ملخي توخي، سره غره ته نژدې له دښمنانو سره په جګړه کې مړ شو او د دې ورور حاجي عادل د پلار د غچ اخیستلو لپاره جګړې ته ولاړ نو د کلا او کور ساتل یې نازو ته پرېښودل، دې په مېړانه توره راپورته کړه، تر ملا یې کړه، د دربار د سپایانو مشري یې په لاس کې واخیسته او له جنګیالیو ځوانانو سره یې کور او کلا د دښمنانو له تاړاکه وساتل، په بشپړ تدبیر یې نظامي اداره کوله او لښکرې یې د خپلې واکمنی د ساتنې لپاره تنظیمولې او بولی یې ورکولې.

د دې همدا تدبیر، توره او مېړانه وه، چې خپله سیمه یې وساتله او د خپل ورور په غیاب کې یې خپله واکمني سنبال کړه او دښمن ته یې موقع ورنه کړه، چې د دوی خپلواک حکومت ته زیان واړوي او یا یې له منځه یوسي.

نازو پر شجاعت او مېړانه سربېره په سخاوت، مېلمستیا، غریب پالنه او له بېوزلو سره په مرسته کولو کې هم نامتو او مشهوره وه، دې د لویې لارې پر سر یوه لویه کلا درلوده، دلته به تل ډېره ډوډۍ او خواړه پخېدل، مسافر او غریبان به، چې په لاره تېرېدل همدلته به پالل کېدل، ډوډۍ به ورکول کېده، هوسا شپه به یې تېروله، حتی د مسافرو او سوداګرو لویې لویې قافلې به راتلې د نازو پر کلا به یې اړول، شپه به یې تېروله او بیا به په خپل سفر روانېدل.

هره ورځ به په سوونو مېلمانه د نازو په کلا کې پالل کېدل او دې به یې په خپله احوال اخیست، حتی ځینې کسان به، چې بې وزلي او غریبان وو، دې به پر ډوډۍ سربېره کالي هم ورکول او مرسته به یې ورسره کوله، په دې ترتیب د دې د سخاوت او لورېینې نوم له خیبر تر کوسانه خپور شو او خلك به له لرې لرې ځایونو نه د دې له مرستې نه د برخمن کېدلو لپاره ورته راتلل او تلل.

د سلطان ملخي توخي په ګاونډ کې د هوتکو یوه کورنۍ وه، چې د هوتکو خاني او مشري یې درلوده، دا خاني د کرم خان هوتك له خوا جوړه شوې وه، کرم خان د سلطان ملخي توخي معاصر و او د ښالم خان په نامه یې یو زوی درلود، کرم خان د سلطان ملخي توخي تر مړینې وروسته د ده له زوی عادل خان نه خپل زوی ښالم خان ته بې بې نازو

وغوښته او د پښتنو د دې دواړو مشرو کورنیو ترمنځ د خوېښۍ تړون وشو او په خوښۍ دواړو کورنیو خپلوي سره وکړه.

بي بي نازو د کرم خان زوی ښالم خان ته په درنو مراسمو را واده شوه او د دواړو د واکمنۍ او نفوذ په ساحه کې خوښۍ او ښادنامې وشوې.

بي بي نازو د پښتنو له دود سره سم په اتڼونو او ډنګ ډونګ واده او د عادل پر ځای د ښالم د کور ډېوه شوه.

دې، چې پوهه او تدبیر، شجاعت او سخاوت ټول درلودل، په نوي کور کې یې هم په بشپړ واك او اختیار په کار لاس پورې کړ.

بي بي نازو دینداره، صالحه او عابده ښځه وه، نو خپلو اولادونو ته یې ټول عمر په اوداسه شیدې ورکولې او په بسم الله او الحمدالله یې لویول، کله یې، چې په کور کې لومړنی زوی پیدا شو نو میرویس خان یې نوم پرې کښېښود، شیخ بېټني رحمة الله علیه یې په خوب ولید، نو په خوب کې یې داسې وصیت ورته وکړ:

((دا زوی ښه تربیت کړه، چې لوی شي، لوی کارونه به وکا، په زیارت د بیت الله شریف به ځان مشرف کا او له نسله به یې داسې پاچاهان پیدا شي، چې دین به روښان کا!))

همهغه و، چې نازو انا د میرویس نیکه پالنې او روزنې ته ځانګړې پاملرنه کوله او په للو للو کې به یې تل تلقین ورته کاوه:

((زویه! د شیخ بیټني نیکه رحمة الله علیه له قوله ستا په مخ کې لوی کارونه دي، نو، چې لوی شې د خدای عبادت او د خلکو خدمت کوه! ته خدای د دې لپاره پیدا کړی یې، چې لوی کارونه ترسره کړې او د خدای مخلوق ستا په خدمت هوسا او ارام شي)).

د بېټ نیکه د وصیت او د هغو نښو له امله، چې د ده په مخ کې وې، نازو انا له ده نه ډېرې هیلې او امیدونه درلودل، نو له دې امله یې په دیانت او عبادت لویاوه، د دین فرایض یې ټول په اووه کلنۍ کې ور وښودل او تر منظمې روزنې لاندې یې ونیو.



همدا وو، چې میرویس، چې بیا وروسته خلکو د نیکه لقب ورکړ، خپل د ژوند هر ګام شمېرلی او سنجولی اېښوده او په هر ګام کې به یې هڅه کوله، چې هغه هدف ته ځان ورنژدې کړي، چې شیخ بېټني نیکه د ده مور نازو انا ته په خوب کې ویلي وو، نو له همدې امله به ده تل د مور تر مړینې وروسته هم دا وصیت تکراراوه او ویل به یې:

زما مور ما ته د لویو کارونو د ترسره کولو وصیت کړی، زه باید همهغسې کارونه وکړم!

کله، چې برې ته ورسيد، هېواد يې ازاد  کړ، نو د شکر سجده يې وکړه او ويې ويل: خدايه دا هغه کار و، چې ما ته مور سپارلی او وصيت يې راته کړی و، دا خو ستا د بندګانو خدمت و، چې ما تر سره کړ!

نازو انا د ديندارۍ، شجاعت، سخاوت او علم د درنو صفتونو ترڅنګ له ادب سره هم ژوره علاقه او مينه درلوده، نه يوازې دا، چې ادبي مطالعه به يې کوله، بلکې په خپله يې هم شعرونه ويل، په پښتو ژبه يې د لوی خدای ډېرې ستاينې کړې وې او حمدونه يې ويلي وو، دې ډېر اشعار وويل، چې يو ديوان ترې جوړ شو او شمېره يې دوو زرو بيتونو ته رسېدله، چې په خپلو اشعارو کې يې ښه نکات ادا کړي او داسې خواږه اشعار يې ويلي وو، چې نارينه هم داسې اشعار نه شي ويلای.

د پټې خزانې د ليکلو پر وخت د دې يوه خوږه څلوريزه د پټې خزانې مولف محمد هوتك د خپل پلار محمد داود هوتك له خولې، چې ورته ياده وه، ليکلې ده.

دا ډېره ښکلې رباعي ده، چې د ژوند فلسفه يې په خوږه ادبي ژبه په کې رانغښتې، چې دا ده:

سحرګه وه د نرګس ليمه لانده

څاڅکي څاڅکي يې له سترګو څڅېده

ما ويل څه دي؟ ښکليه ګله ولې ژاړې

ده ويل ژوند مې دی يوه خوله خندېده

دا يوه داسې فلسفه ده، چې د نورو متفکرو انسانانو ذهن ته هم تداعي کېږي، همدا وو، چې تر نازو انا دوه سوه کاله وروسته د شلمې پېړۍ متفکر او فيلسوف علامه اقبال هم دې ته ورته مطلب په خپل شعر کې د توارد په ډول ادا کړی او راوړی دی:

شبی زار ناليد ابر بهار

که اين زندگی گريه پيهم است

درخشيد و برق سبك سير گفت

خطا کرده يی خنده يکدم است

خو بيا هم د نازو انا د شعر نازکي او لطافت پرې زيات دی، ځکه علامه اقبال د وريځې ژړا يعنی د باران څاڅکی د ژړا نښه بللې، خو نازو انا بيا د پرخې څاڅکی، چې د اوبو له تبخير نه ترلاسه کېږي او ډېر لطيف کېږي د ژړا د سمبول لپاره کارولی دی.

هو!  نازو انا هغه مور وه، چې په يوه لاس يې زانګو زنګوله او په بل لاس يې جهان وزنګاوه!

**

د ښاغلی داکتر عبدالخاق رشيد مقاله د بی بی بازو انا به باره کی مه هيروی:

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/Rashid_k/rashid_ak_de_naazo_anaa_jowand.pdf